دوکتور محمداکبر یوسفی ۲۰۲۱/۰۲/۰۳

# «طالبانو ته د ډاکتر اشرف غنی کلک ډپلوماتیک ګذار» ته لنډه کتنه!

تر هر څه د مخه، د لیکوال نظر ته، دا کتونکئ، هر اړخیزه درنښت او احترام ساتی، خو د دوی پر ځینو نتیجه ګیریو باندی، چی دی لوستونکی ته واضح نده، ځانته د معقول «نیوکو»، حق ورکوی، دا په دی معنی نه ده چی د دوی د احتمالی «څیړنی» نتیجی غلطی وبلل سی، خو د داسی عمومی جملو په هکله چی د منلو درست تصویر نه ورکوی، باید د پوښتنی حق وجود ولری. لویه خبره چی د مابعدی نتیجی ته هم، د مشابه مغشوش ګمان ژوندی کولای سی ، د لمړنی جملی څخه شروع کیږی: «**د دوحې هوکړه چې د امریکا او طالبانو ترمنځ د تېرمیلادي کال په فبروري کې لاسلیک شوه د سترو سیاسي او حقوقی خلاوو نه ډکه یوه هو کړه ده. دې تړون نه یواځې افغانستان ته تاوان ورسا وه بلکې امریکه ئې هم زیانمنه کړه، ځکه چې د دې تړون سره د امریکا اقتدار او موقف په جهان کې صدمه ولیده.**» دی لوستونکی ته واضح معلومه نه ده چي دقیق همدی «تړون»، د امریکی «اقتدار» ته صدمه رسولی وی. دا چی افغانستان یو تأریخی وطن دی، هر چا ته معلومه ده. ټولو ته همدا رنګه د «طالبانو» په باب، په کافی اندازه معلومات وجود لری، او ټول جهان هم پوهیږی، چی د دی «تړون» دواړی خواوی، د کوم ډول موقف او «اړیکی» خاوندان دی.

دا چی یو لوی «قدرت» وروسته تر نږدی شلو کلونو څخه، چی پخوا به «تروریزم» تر «مهر» لاندی، د دوی سره، مذاکره نه غوښتله، مګر کوم وخت چی د دی لوی «قدرت» دا تصمیم» اعلان سو، چی ګواکی، دوی «غواړی» دا جنګ «ختم» کړی، نو د دی «شکلی» توافق او یا «تړون» د پاره، اصلی اهداف هغه «لوی قدرت» ته باید معلوم وی. او همدا رنګه «طالبان» چی تر اوسه پوری د خپل «امارت» سقوط، د امریکا او د هغو متحدینو د خوا څخه بولی، خو د دوی د ادعا او هم معلومه ده، چی دا دولت په رسمیت نه پیژنی. دا چی د افغانستان دغه دولت چی بنسټ ئی د «بن» په کنفرانس کی اینودل سوی، سره د دی چی «څلور» نمایشی «ټاکنی» ئی د «جمهوری ریاست» د پاره تر سره کړی او نور جنجالی ټاکنی هم سوی، خو «طالبان»، په دی شلو کلونو کښی، دا «حاکمیت» په رسمیت نه دئ پیژندلئ. دا چی دا لوی «قدرت» چی د یوی خوا څخه اوسنی «دولت» په «پښو» درولی، چی په دی جنګ کی، پر خلکو باندی تلفات اداره کړی، نو په دی کی شک نسته چی عام افغانان د دی جنګ قربانیان دی، او زیانونه ګالی، چی د تفصیل ځای نه لیدل کیږی.

د دی «دوه سری» حاکمیت بی له دی څخه چی د طالبانو له خوا په سپکه سترګه کتل کیږی، برسیره پر دی چی د حاکمیت برخوال، په خپله هم د دی «حاکمیت» په سپکاوی مشغول دی، په سیاسی لحاظ، هغه ځی چی نړیوال انتظار درلود، دي دولت سر ته و نه رسول.


برای ارسال مقالات به روی لینک ذیل کلیک نمائید!
info@arianafghanistan.com

لیکونکی د ډیرو مادو په نښانو باندی، غواړی داسی یو کتنه تحمیل کړی، چی ګواکی د دی مناقشی خواوی دې د عادی بین المللی تجاربو له مخی، په حقوقی لحاظ د مذاکری طرفونه وی. مګر موږ ټول په دی نه یو خبر، چی د یوی خوا څخه د دوی په «حمایت» جوړ سوی دولت او د هغه د امنیت او نظامی ارګانونه تمویل، تجهیز او تسلیح کیږی او د بلی خوا څخه د هغه لوی قدرت نمایندګی، دائماً «دوحی» او د نورو سفرونو د مخی او وروسته به دغه هیأت کابل ته هم راتلل، او دغه «رئیس جمهور» به دائماً خبر ورکاوه چی دا مذاکرات «زما» په موافقه سوی. که چیری «طالبان» دا دولت په رسمیت پیژندلی وای، خو دا مذاکری باید د یوی «داخلی شخړی» په شکل د حل لاره پرانستی وای. جالبه داده، چی د حکومت پلویان، دائماً منفی عکس العملونه ښودلی. کله چی کوم امریکائی مقام ویلی چی «طالبان» زموږ د ملی امنیت «دښمنان» ندی. دا واضح خبره ده، چی «طالبان» د داسی اوږد او قوی لاس خاوندان ندی، چی د بین المللی «تروریستی» ډلی غوندی، جهان ته خطر سی. بین المللی «تروریزم» چی د یو بل «جوړښت» او اهدافو خاوندان دی، بین المللی امنیت ته خطر خلق کړی.

د لیکوال د دوهمی مادی سره، دا کتونکی هم موافق دی. د فرصت نه په استفادی سره هغه شکلی یا «فورمال» ادعا ګانی چی د دولت حاکمان په خوله راوړی او وائی چی، دا «صلح» د دوی خپل «مالکیت» دی، د صلحی مذاکرات باید د حکومت په رهبری وی ، کله کله د خندا وړ ده. څوک چی «جنګ» ته ملا تړلی، نو «جنګیانو» ته توپک او راکټ او یا مرمی پلاس ورکوی او شعار به ئی هم دا وی چی «سر ورکوم، سنګر نه ورکوم.» مګر څوک چی د «صلحی» حالت برابروی هغه د آبادی او د لا وژنی او د خرابیو مخ نیسی، او د توپک پر ځای ممکن یوم او کلنګ په لاس ورکړی. ځینی د حکومت پلویان دائماً د رسنیو د لاری، بی مفهومه تبلیغات هم کوی، او وائی چه صلح «قربانی» غواړی. نه خیر، صلح د آبادی د پاره کارګران او هم زړه سواندی لاربنود، ته ضرورت لری.

د لیکوال د دریمی مادی سره موافق نه یم، دا ځکه چی د دی لوی قدرت په دولت کی داسی پوهان سته چی د دی اړخونو په ماهیت و پوهیږی، چی څنګه یو حقوقی سند، د بین المللی نورمونو پر اساس برابر کړی. د دوی سره نور ملکونه، په شمول د «ناتو» د غړی «هیوادونه» هم شامل دی.

دی کتونکی ته د امریکی د رسمی نماینده ، «داکتر زلمی خلیلزاد» یو اظهار پوره وزنه لری، چی کوم وخت ویلی: «امریکا د هیڅ کس په بلنه، افغانستان ته ندی راغلی، او هر وخت چی وغواړی، بی له کوم مانع څخه خپلی خاوری ته ګرځی» د بلی خوا څخه دا کتونکی، باور لری، چی د پرنیسپ بر بنسټ, امریکا او هم غربی نړی ته په نهایت کی دا مهمه نه ده چی افغانان د یو جمهوری دولت او یا د «امارت» او یا بل شکل، تر حاکمیت لاندی اداره کیږی. دا حدس هم وهل کیدای سی، چی د یو با ثباته حکومت په آرزو دی، چی د دوی په ملکونو کښی، تیری په ربنتیا تکرار نسی. د پاتی برخی پر ټکو باندی که لازمه وه، خپل د بیا اظهار حق محفوظ ساتم.

پای



د داکتر محمد اکبر یوسفی د نورو لیکنو لپاره، پر عکس کلیک وکړئ



برای ارسال مقالات به روی لینک ذیل کلیک نمائید!
info@arianafghanistan.com